مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۸/۲۱

د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
پینځم ټوک
دوه سوه نهه پینځوسمه پرله پسې برخه

کندهار

ایدیت:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

سرلت: ۵۱ ــ ۲۹، ۷ ــ ۶۶ «الف»: دا یوه ستره غرنۍ لړۍ ده چې ښوراوک له شارود څخه جلا کوي. په حقیقت کې دا د خواجه عمران د غرنۍ لړۍ امتداد دی چې سویلي انتها ئـې د خواجه عمران د لړۍ ۱۵ مایله په ځان کې رانغاړي؛ د غرونو څوکې له یو بل څخه له ۶ مایلو ډیر لیرې نـهٔ دي. د دغو لړیو تر منځ د لوړه د سیند اوږد تنګی واقع دی. که په ډیره څرګنده یا صراحت ووایو نو په عادي مصطلحاتو کې سرلت د یوې غرنۍ لړۍ پر ځای تر ډیره یو «ګهټ» [1] یا د لوړې سطحې قطع سوې برخه ده. د کدني دښته چې د خواجه عمران په لویدیځ کې ده په ختیځ کې ئـې د پشین په پرتله ټیټه ده، خو بیا هم غرونه د پشین له سطحې ۳۰۰۰ فیټه لوړ دي.

له بلې خوا د غرنۍ لړۍ د سرلت د لوړې څوکې کرښه د شارود په خوا کې له بالا دشت څخه څو سوه فیټه پورته ده او د ښوراوک پر لور سقوط ۳۰۰۰ فیټه دی. د خواجه عمران غرنۍ لړۍ چې د ښوراوک دښتې ته د لوړه د سیند د راڅرګندیدا په ټکي کې پای مومي د سرلت غرنۍ لړۍ هم د نوشکي دښتې ته د قیصار د سیند د راڅرګندیدلو په ټکي کې پای مومي؛ له دې ور ها خوا دا غرونه «چې د ډورۍ په نوم یادیږي؟» مخ پر سویل – سویل لویدیځ دوام مومي او د بلوڅستان د لوړو سطحو او د سترو دښتو تر منځ شیب جوړوي چې مخ پر لویدیځ د سیستان پر لور غځیدلي او له فارس سره سرحد جوړوي. په دې باید پوه سو چې دا ټوله سیمه په چټکۍ سره مخ پر سویل لویدیځ سقوط کوي، سره له دې چې سرلت او نورې غرنۍ لړۍ چې همدې لور ته امتداد مومي د دوی د مطلق لوړوالي په پام کې نیولو سره د خواجه عمران او نورو په پرتلې ټیټې دي خو بیا هم د لویدیځ دښتو پلو ته نسبتاً دنګ لوړوالی لري. د سمندر له سطحې څخه د سرلت لوړوالی تقریباً ۶۰۰۰ فیټه دی. د څوکې کرښه ئـې په غیر معمول ډول منظمه ده او د تقریباً ۶۰ مایلو په واټن

[1] - ghat

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

ټول اوږدوالي کې یوه ښه په نښه سوې څوکه ده. دا څوکه د «چاري تینگ» [2] یا «سرو» په نوم یادیږي. لوړوالی ئـې ۶۳۳۰ فیټه دی. دا څوکه په خپله کوچنۍ ده خو په پرتله ییز ډول ډیره څرگنده او برالا ده دا څوکه هم له ختیځ او هم له لویدیځ لوري په څرگنده ښکاري. د سرلت جیولوژیکي جوړښت د توقع له مخې د خواجه عمران له لړۍ سره یو شان دی. د خواجه عمران د تورو ډبرو «ایوسن» [3] اساسي یا عمومي لړۍ جوړوي حال دا چې د لویدیځ خواجه عمران او د «تنگه» [4] سینیتک گرانیت، په منقطع او کنډو خط الرأس کې بیا راڅرگندیږي او د سرلت د لویدیځ بیخ او د ښوراوک د دښتې تر منځ یو ناڅاپه بیا راڅرگندیږي. د نوشکي دښتې ته د قیصار د راغورځیدلو په خولـۀ کې سرلت د ناهموارو ډبرو په یوې کواړۍ چې یوه دنگه غونډۍ ده او شپږ یا اووۀ سوه فیټه لوړ والی لري او د «کوتي» [5] په نوم یادیږي پای مومي. په اساسي لړۍ کې بلافاصله پورته برخه په سیمه کې د «گاوري» [6] په نوم یادیږي. پورته ئـې د غوري له نالې سره موازي برخه د «شور» [7] په نوم یادیږي او د ایلتاز د کاریز مقابل لوری د «پیشي» [8] په نوم یادیږي چې یوه براهوي اصطلاح ده. د ایلتاز د کاریز شمال کې لوی سرلت دی.

د سرلت کوتلونه د هغوی د اړوندو نومونو تر سرلیکونو لاندې شرحه سوي دي. له شماله په پیلیدلو سره درې کوتلونه دي چې یو بل ته نیږدې دي او د «بالا دشت» له شمال لویدیځ گوټ څخه پیل کیږي. دا کوتلونه دا دي: (۱) پښه، چې د میر علم کلا ته لاره ورکوي او یوازې پل لاره ده؛ (۲) اشترک: دا هم د پښې تر کوتل کوم ښی والی نـۀ لري؛ (۳) سلواتو: تر پټله خان او زبر دست پورې لاره لري چې ډیره سخته نـۀ ده خو د اوښانو د تگ لپاره عملي نـۀ ده. دغو کوتلونو ته نیږدې څلورم کوتل دی چې د «موهت کوتل» [9] نومیږي او زبردست ته لاره ورکوي؛ دا هم د سلواتو په شان له سختیو ډک دی. دا کوتل د «سرو» [10] د غرنۍ څوکې شمال کې دی. څو مایله وړاندې سویل لویدیځ لور ته پینځم کوتل راځي چې د «ولي» یا «گت» (د ولي/ بید د ونې) [11] کوتل دی؛ دا کوتل د ایلتاز له کاریزه تر «میرو» پورې لاره ورکوي او دا په ټولو نورو کوتلونو کې یوازې د اوښ د کښته کیدلو لپاره کوتل دی. د «باړه کاریز» [12] او د «هیبت د زیارت» تر منځ یوه ناله ده چې د «سیرک او» [13] په نوم یادیږي او له همدې ځایه یوه لاره تر «یار محمد او صاحب زاده» پورې تللې ده؛ ویل سوي چې دا لاره د سپکو بار وړونکو اوښانو د تگ لپاره عملي ده. لا وړاندې سویل لور ته د «غوري او د قیصار» د سیندونو د یو ځای کیدنې له ټکي پورته یوه لاره د «نوشکي» ولسوالۍ ته تللې ده چې د «چاو کل» [14] په نوم یادیږي. دا لاره د باروړونکو سخوندرو او کچرو د تگ لپاره عملي ده. په پای کې د آس د تگ یوه لاره هم سته چې د

---

[2] - Chari Ting or Saru

[3] - Eocene: د ځمک پیژندنې یو پړاو دی چې له ۵۶ میلیون کالو تر ۲۲ میلیون کالو پورې پړاو رانغاړي. - ژ

[4] -Khwaja Amran and Tanga

[5] -Kuti

[6] - Gauri

[7] -Shur

[8] - Pishi

[9] -Mohat

[10] -Saru peak

[11] -Wali or Get (willow) pass

[12] -Bara Karez

[13] -Sirkao

[14] -Chaokul

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«توبو» [15] په نوم یادیږي چې د دقیق موقعیت په هکله ئـې معلومات نـۀ لرو خو کیدای سي له غوري څخه په کوم ځای کې د هیبت د زیارت په شاو خوا کې جلا سوې وي.

د سرلت له څوکې څخه که وګورئ نو ستاسو سترګو ته د ټول ښوراوک او لا وړاندې د ور ها خوا دښتې ټول منظر په سترګو کیږي. «میتلند»

سرپوریا: دا د کشک نخود د ولسوالۍ یو کلی دی. «لیچ»

سرپوش: ۵۶ ــ ۳۱، ۲۷ ــ ۶۵ «ن»: دا خاکریز په درې کې یو کلی دی چې زیارت ته نیږدې د شاه مقصود د غرنۍ لړۍ د لمنې په سویل ختیځ کې موقعیت لري. «لینس»

* **سرسرک:** ۵۱ ــ ۲۹، ۴۷ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د ریګ په شمال ختیځ کې د لوړه په درې کې د «صیاد بس/ سید بس» د لویدیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې یو کلی دی.

سرتاش: ۲۹ ــ ۳۱، ۴۳ ــ ۶۶ «ج»: دا یوه ناله ده چې له ښي لوري له کدني سره یو ځای کیږي او د نارین د سیند له خولې څخه تقریباً ۱ مایل پورته موقعیت لري. له دې پورته یوه لاره د نارین له لارې د ارغسان تر سیند او معروف پورې تللې ده. «بن»

سروند: ۳۶ ــ ۳۲، ۴۱ ــ ۶۸: د سروند غرنۍ لړۍ د سلیمان د غرونو د سیستم لویدیځه برخه ده او شمالي منتهی الیه ئـې کله چې د «کوۀ ناک» [16] له لړۍ سره ملاقي کیږي په همدې لور کې د کندهار ولایت حد جوړوي. برادفوټ په ۱۸۳۹ز کال کې په دې ټکي کې د سروند لوړوالی ۷۵۰۰ فیټه اټکل کړی وو. کوتل ته ختل له ختیځ لوري په بوټو پوښلي یوې ډډې څخه کیږي چې تقریباً ۶ مایله مزل دی. په پای کې دا کوتل خپل ځای د ۲ مایلو په اوږدوالي او د ۳۰ یا ۴۰ یاردو په ارتوالي یوې تنګې درې ته ورسپاري او لاره ئـې په نسبتاً همواري سطحې کې پر مخ ځي، دره د غرونو په منځ کې پراخیږي، دلته غرونه له شمال لوري ستوغ دي او په سویل کې ترې راتاو سوي دي. «آی.بي. سي.»

سرور جان: دا د کشک نخود په ولسوالۍ کې یو کلی دی. «لیچ»

سرور کلا: دا د «تره کي تیوري» یو کلی دی. «بن». *په دې نوم یو بل کلی د سرکاري معروف د سویل ختیځ په تقریباً ۴۰ مایلۍ کې په ۱۲ ــ ۳۱، ۱۹ ــ ۶۷ «ج» کې واقع دی.*

سرور کاریز: ۲۱ ــ ۳۱، ۶ ــ ۶۶ «ج»: دا له «مارغه چمن» څخه تر کندهار پورې د «کوسه» [17] د کوتل له لارې د سړک په اوږدو کې د کندهار په خوا کې د تنګې په ۲ مایلۍ کې یو کلی دی. دلته د یوې فرقې لپاره د کمپ وهلو ځای سته. له دې ځایه د اړتیا وړ توکي ترلاسه کیدای سي او اوبـۀ ئـې ښې او پریمانه دي. د دې ځای خلک بارکزي دي. «آی. بي. سي.»

* **ساوت خیل**: ۹ ــ ۳۲، ۳۹ ــ ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د میزان د ختیځ په تقریباً ۸ مایلۍ کې د «راباغي شیلي» [18] پر غاړې «رمازیو» [19] ته نیږدې یو کلی دی.

---

15 -Tobo
16 - Koh -i –Nak range
17 -Kussa Pass
18 - Rabaghay Shila
19 - Ramazai

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **سایه گز**: ۳۴ ـ ۳۲، ۲ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د ارغنداب په علاقه داری[20] کې د شاهد ماندې د یو ځای کیدنې په ټکي کې د ارغنداب د سیند پر غاړې یو کلی دی.

سیفو کلا: ۳ ـ ۳۲، ۴۹ ـ ۶۶: دا د ترنک د سیند پر کینه غاړه له قلات غلزایي ۵ مایله کښته یو کلی دی. دلته د اړتیا وړ توکي پریمانه دي. «پرایر» *په دې نوم یو بل کلی د شاه جوی د سویل په تقریباً ۴ مایلی کې په ۲۹ ـ ۳۲، ۲۶ ـ ۶۷ «ج» کې موقعیت لري.*

سهلم: وګورئ: سلیم: ۱۲ـ ۳۲، ۲۸ ـ ۶۶ «الف»

* **سِهناوَر**: ۱۱ ـ ۳۴، ۴۵ ـ ۶۵ «ن»: دا د روزګان د ولایت په شمال کې د سرخ جوی د شمال لویدیځ په ۴ مایلی کې او د «کوهٔ تاجیک ها» په ختیځ کې د اوبو د یوهٔ بهیر پر غاړې یو کلی دی.

* **سلد واره**: ۲۳ ـ ۳۱، ۳۳ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د رشید د کلا د سویل په تقریباً ۱۰ مایلی کې د رشید له کلا څخه تر الا جرګې پورې د لارې په اوږدو کې په نیمایي لاره کې یو کلی دی.

* **سِوِی**: ۵۵ـ ۳۱، ۳۱ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د شملزیو د لویدیځ په تقریباً ۸ مایلی کې اتغر ته د تللې لارې په اوږدو کې یو کلی دی.

شابولان: ۵۳ ـ ۳۱، ۵۶ ـ ۶۶ «ج»: دا یو ستوغ منفرد غر دی چې د کج باز او قلات غلزایي تر منځ واقع دی. دا ځای د ۱۸۸۰ز کال د مې د میاشتې پر دوهمې نیټې د جګړې یوه صحنه وه، هغه مهال دا ځای یو شمیر غازیانو نیولی وو خو د بلوڅ د دوهم کنډک ۳ قطعو دوی له دې ځایه وشړل چې ۱۴ تنه ئې ووژل سول او ۵ تنه ئې ژوندي ونیول سول. «بیسکو»

شابار: ۱۰ ـ ۳۲، ۵۷ ـ ۶۶: دا د ترنک پر کینې غاړې د قلات غلزایي په شمال کې یوه کوچنۍ علاقه ده. د توخي د سیمې حد په دې خوا کې همدلته ده. «سنت جان ایوان سمیټ»

شابـــه: یا شابي: دا د تره کي غلزیو یوه فرعي څانګه ده چې په تیوري کې ژوند کوي.

* **شابیدک**: ۱ـ ۳۴، ۵۵ ـ ۶۵ «ن»: دا د خضر «دای کنډي» په شمال کې د روز ګان په ولایت کې د یوهٔ سیند پر غاړې یو کلی دی.

* **شابیلِ خورد**: ۵۵ ـ ۳۱، ۱ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د «بورَګي» [21] د سویل په تقریباً ۵ مایلی کې د سور غرهٔ په لویدیځ کې یو کلی دی. یو بل کلی چې د شابیل کلان په نوم یادیږي یو مایل وړاندې په شمال ختیځ کې دی.

شبو زي: دا د اڅکزیو د قبیلې د بادین زیو یوه څانګه ده. دوی د ارغنداب په درې کې او د ریګستان پر پولې استوګن دي. «کلیفرد» *په دې نوم یو بل کلی په ۱۱ ـ ۳۰، ۶ ـ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

* **شاده**: ۲۷ ـ ۳۲، ۸ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د کورغان د غرهٔ په ختیځ کې او د شین بند په سویل کې یو کلی دی.

شادي: ۳۴ ـ ۳۱، ۴۶ ـ ۶۵: دا د کندهار د ختیځ په ۲/۱ ۲ مایلی کې بالا کرز ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو» *په دې نوم بل کلی د جلدک په سویل ختیځ کې په ۴۹ ـ ۳۱، ۴۸ ـ ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

---

[20] - Arghandab alakadari
[21] -Buragey

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شادي قلعه: ـ ۳۲، ـ ۶۷: دا د ترنک د سیند پر کیڼي غاړې یو کلی دی. له دې ځایه یوه لاره د سپیر سنګ کوتل ته تللې چې په ناوه کې منتهي کیږي. «کلیفرډ» *په دې نوم نور کلي په ۸ ـ ۳۱، ۳۹ ـ ۶۶ «ن» کې او د کلات په شمال ختیځ کې به ۱۶ ـ ۳۲، ۲۱ ـ ۶۷ «ج» کې موقعیت لري.*

شادیخاک: ۱۶ ـ ۳۱، ۲۴ ـ ۶۷ «الف»: دا د نخاس په غرنۍ لړۍ کې یو کوتل دی چې له منځه ئې د توکرک له لارې له پشین څخه تر معروف او غزني پورې لاره تیریږي. دا لاره د شادیخاک په نالې منتهي کیږي او دا ناله د توکرک د سیند له خولې نیم مایل کښته له کدني سره یوځای کیږي، دا لاره د باروړونکو اوښانو لپاره مناسبه ده خو د عرابه لرونکو وسایطو لپاره مناسبه لاره نـهٔ ده. «ښ»

دلته د ۲۴ تنو خاصه دارانو یوه پوسته هم سته. «آی. بي. سي. ۱۹۰۵»

شادي خان: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د خوش اوبي دري «د خوږې اوبـهٔ دري ـ ژ» یو کلی دی. «کلیفرډ»

شادوزي: ۴ ـ ۳۱، ۲ ـ ۶۶ «ن»: دا له چمن څخه تر کندهار پورې د سویلي منتهی الیه یا د ډورۍ د سیند پر غاړه یو ځای دی چې معمولاً د دمې نیولو د ځای په توګه کارول کیدهٔ؛ د همدې ځای له څنګه یو لوی نهر تیریږي دا نهر د ډورۍ له سینده راغلی دی چې دوه یا درې مایله سویل کې دی. اوبـهٔ ئـې پریمانه دي. دلته یو مشهور زیارت هم سته او استوګن نورزي هم په کې ژوند کوي. «بومي معلومات ۱۹۰۴» *اوسنۍ نقشې دا نوم د «شادي زي» د «کلي» په نوم یادوي.*

* **شادو:** ۳۴ ـ ۳۲، ۲ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د شهید ماندې د یوځای کیدنې د ټکي په مقابل لور کې د ارغنداب د سیند پر غاړې یو کلی دی.

شفتل: ـ ۳۲، ـ ۶۷: دا له قلات غلزایي څخه ۳۵ مایله لیرې او له غزني څخه ۱۰۹ مایله لیرې د ترنک د سیند پر غاړو د دمې نیولو یو ځای دی. دلته د کمپ لپاره هم ځای سته خو په شا و خوا کې نه کومه کرهڼه سته او نـهٔ کوم کلی. «هوف، اوترام»

* **شگی:** ۲ ـ ۳۱، ۱۳ ـ ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سپین بولدک د لویدیځ په تقریباً ۸ مایلۍ کې او د «خیران» [22] د ختیځ په تقریباً ۱ مایلۍ کې یو کلی دی.

شهاب الدین: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا نوم معمولاً د ارغسان په درې کې د عطاء محمد خان د کمپ په سیمې کې د امین له کلا څخه ۹ مایله لیرې یوهٔ کلي ته اطلاق کیږي. «کلیفرډ، آی. بي. سي.» *په دې نوم بل کلی د ارغنداب د سیند پر غاړه په ۲۸ ـ ۳۲، ۵۱ ـ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

* **شاهاک:** ۹ ـ ۳۲، ۳۱ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د لوړه سیند ته نیږدې د شینکي غرهٔ په شمال لویدیځ کې یو کلی دی.

شاه علم خیل: دا د توخي غلزیو یوه څانګه ده.: «ملوی»

* **شهباز خیل:** ۶ ـ ۳۲، ۱۵ ـ ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د سورغرهٔ د سویل لویدیځ او د «داب» [23] د شمال ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

---

[22] -Khiran
[23] -Dab

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **شاه بید**: ۵۲ ـ ۳۳، ۱ ـ ۶۷ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د هلمند د سیند د شمال لویدیځ په تقریباً ۴ مایلی کې او «سرګ» [24] ته نیږدې یو کلی دی.

شادک: شاه ډاګ: دا د کندهار پر لارې له لوري څخه ۹۲ مایله او له مقر څخه ۱۱۰ مایله لیرې د راهٔ معروف پر لارې د دمې نیولو ځای دی. دلته د څښاک اوبـهٔ د اوبو له چینو څخه ترلاسه کیږي خو شاو خوا هیڅ کرونده نـهٔ سته. «لمسدن» *ښایي له دې نامـهٔ څخه موخه هماغه شادیخاک وي.*

شاهي بیخ توی: دا د «ګومل» یوه څانګه ده چې معمولاً وچه وي او د دوماندي ـ غزني سړک ورڅخه تیریږي چې له دوماندي څخه تقریباً ۴۲ مایله لیرې موقعیت لري. «بومي سروې کوونکی ۱۹۰۴»

شاه ګشلونه: [25] ـ ۳۱، ـ ۶۷: دا بیانزیو او د کلکې نالې تر منځ د کدني پر ښی غاړه د غرونو یوه لړۍ ده. «بن»

شاه غاسي: ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د ارغسان په درې کې د «سودني» [26] د نالې پر غاړې د دریو کوچنیو کلیو په منځ کې یوکلی دی، دا کلي ټول د خوګیانیو په نوم شهرت لري.

شاغاسي: ـ ۳۱،ـ ۶۶: دا له کندهار څخه تر قلات غلزایي پورې د سړک پر غاړې یو ځای دی چې کله نا کله د دمې نیولو په توګه کارول کیږي. دا ځای د جلدک د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۳ مایلی کې دي. دلته د اړتیاوړ توکي پریمانه دي او ګرد چاپیره سیمه ښـهٔ کرل سوې ده. د دې ځای اوبـهٔ ښې او له کاریزونو څخه دي. «بومي معلومات،۱ ۹۰۳» د شاه غازي [27] په نوم یو کلی د خوګیانیو د شمال په تقریباً ۳ مایلی کې په ۳۹ ـ ۳۱، ۳ ـ ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.

شاه غر: [28]: ۵۴ ـ ۳۱، ۳۵ ـ ۶۸ «ن»: دا د غرونو یوه لړۍ ده چې مخ پر شمال ختیځ او سویل لویدیځ لور د تیورې د شمال ختیځ پر لور پر مخ ځغلي او په شمال لویدیځ کې د «تارون» [29] تر دښتې راتاویږي. دا لړۍ تقریباً ۱۶ مایله اوږد والی لري او په مرکز کې ئـې د شاه غرهٔ کوتل دی او د کوز قندیل له درې څخه تر غزني پورې لاره ورڅخه تیریږي. د دې لړۍ تر ټولو لوړ ټکی ۷۸۹۱ فیټه لوړوالی لري.

پینځمه شمیره ستنه چې د څرګندو غرنیو څوکو د کرښې په شمالي انتها کې درول سوې ده چې د شاه غرهٔ سویلي څانګه جوړوي، له همدې ستنې څخه د هندوستان ـ افغانستان سرحدي کرښه مخ پر سویل لویدیځ ځغلي او د پورتنۍ کرښې د تاج د څوکو کرښه تر شپږمې ستنې پورې تعقیبوي او دا ستنه د سویلي څوکې انتها ده. «بن، آی. بي. سي.»

شاه حسن خیل: دا د توخي غلزیو یوه څانګه ده. «ملوی» *په دې نوم یو کلی د ترنک د سیند پر غاړه په ۲۱ ـ ۳۲، ۱۶ ـ ۲۱ «ن» کې موقعیت لري.*

شاه نې: ـ ۳۱، ـ ۶۷: دا د الا جرګې د لویدیځ په تقریباً ۳۰ مایلی کې د پسین لور په شمال کې د پیسن د قبیلې یو کوچنی کلی دی. «بن»

شاه جوی: ۳۱ ـ ۳۲، ۲۵ ـ ۶۷ «ن»: *شاه جوی د زابل په ولایت کې د یوهٔ کلي او یوې ولسوالۍ نوم دی. دا ولسوالي ۱۵۱۸ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وګړو شمیر د ۱۰۶۹۰ او ۱۴۰۸۵ وګړو تر منځ اټکل کړی*

---

[24] -Sarg
[25] -SHAH GASHLUNA
[26] -Sodanai Nala
[27] -Shahghazi
[28] - SHAH GHAR: په عربي الفبا ئـې ددې نوم تر مخ «شاه غار» لیکلي دي حال دا چې «شاه غر» ئـې سمه بڼه د. - ژ
[29] -Tarun plain

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دی. دا ولسوالي په لویدیځ کي له ارغنداب، په شمال کي له جاغوري، په ختیځ کي له گیلان او ناوې او په سویل کي د شینکي له ولسوالیو سره کرښه لري. د شاه جوی ولسوالي ۱۵۸ کلي لري او هیڅ کلی ئـي له ۵۰۰ دیر وگړي نـۀ لري. لنډ مهالي مجلي دا کلي په لاندي ډول لیست کړي دي:

قلعـۀ سرور «سرور کلی»	مانده	قلعـۀ سفر «سفر کلی»	میران
زرگران «زرگر»	چشمـۀ باران خیل	چشمـۀ میران خیل	سه بندي
سیدان تره کي	سیاه سنگ	تازي	ملا حبیب کلی
خالقداد	ملا بهلول	عزیزالله	حاجي محمد عمر
خاکـۀ کلان	مغول گی	خاکـۀ خورد	سکینه «سنکینه»
چمبر خاکه «چمبر»	کشمیر خیل	برج	بوستان خیل
بندِ گرنایي	ملا رشید	چینه ماندي	پخته «پنځه»
قلعـۀ شکور	علیقه	چمبر شاهی علم خیل	ابراهیم خیل
بهرام خیل	شینکی	کلی	خواجک
سیفو کلی	غبرگی	عبدالقیوم	حاجي فضل احمد
مبین کلا	چمبر شاه برات	مقام	هنگي
یتیمک	حاجي تاج محمد	باغ گی	خانو خیل
پرلا خیل	پیروزي	سرخکان	سرخ برگ «سور برگ»
بازوگی	خواجه خیل «خر دزد»	هوتکي او کوله غي	اور گومي
محمد خیل	اینځر «اینځر خاکه»	کاش	اشغر خیل «اخضر خیل»
شایي خان	گوجاوي «گاجوی»	شاغي	احمر
ملا اکرم	جیگ جا	بغتو کاریز «کاریز بغتو»	بیدکِ بغتو
مرکز بغتو	هجرک	باره خان	سحود خیل «خوت خیل»
حاجي تاج محمد	شاه حسن خیل	لالا شهید «لالا شاهي»	یکخ آو «یخ آب»
آوکه چي «آب کچي»	عمر گل	چشمو	سفید چاه
آشوغي «اس غي»	چمبر شملزي	گنداو	کاجور خیل
یاخیل «یحیی خیل»	بازرگان	مراد خان	چمبر مرغي
چمبر جلال الدین	سور گل	قلعـۀ مدیر	قلعـۀ بتیار
قره باغي	موسی زي	کرکالي	چمبر سدوزی
حیات کلی	جعفر سفلی	چینـۀ جان محمد	سري زي
باره خیل مراد خان	نرزک	جهانگیر	پاسنی مراد خان
پاینده خیل	مراد خان	پاینده خیل	لانجه خیل «لانچي خیل»
قلعـۀ صمد	سي زي «سید زي»	محمد علي	ناتوزي «خانو زي»
باکورزي	نجاران	اندړ	شابور
محمد نعیم	زکو زي	سیدان شوبر	عظمت
ساچوی	جمال خیل	قلعـۀ قیصر	بورلاکي
عبدالرؤف	حاجي لالی	کلا خیل	خان محمد او لالی
خان محمد	حاجي صاحب کلا	سلیمان خیل	عثمان غني کلا
قلعـۀ شاه محمد	چشمـۀ نظر محمد هلال	چشمـۀ نیاز محمد	چشمـۀ هلال
لعل چشمه	قلعـۀ لودین	شش گاو	گاري
سنځر	چا چوی	چشمـۀ بشر لودین	لودین کوهي
جعفر علیا	قریـۀ حاجي شکرالله	میلی زي «لالي زي»	محمد نظیر
باغ گی	قریـۀ عبدالقادر	دفتاني مراد خان	سران خیل مراد خان
سیدان ملا جانان	بغتو چاچوب	بختو چاچوب	اماک هنگي
سیدان	روناخیل	شای خال	بازار شاه جوی
قلعـۀ ناصر	قلعـۀ حاجي سلطان شاه	داور خیل	شهود خیلِ خواجک
شمان زي	دینار خیل	سرای حقیر علي	بختو چپر
انجیر	باغگی	سور غرک	چشمـۀ گل شیره
مستي	چشمي	چشمـۀ باران	چشمـۀ فقیر صاحب
غوژی Ghozhai			

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

دا سیمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

لوړوالی: ۶۲۴۷ فیټه. دا د قلات غلزایي د ولسوالۍ یوه علاقه داري ده او هم د قلات غلزایي له سرک څخه ۴۰ مایله لیرې د کمپ وهلو یوه سیمه ده. د ۱۸۸۰ز کال د اپریل په میاشت کې د سر ډي. ستیوارټ ځواک شاه جوی ته نیږدې دمه سو. گاونډۍ سیمه ئـې مخ خلاصې او د سرک په دواړو غاړو کې د کمپ لپاره د ښـۀ ځای په موندلو کې کومه ستونزه نـۀ سته. اوبـۀ له یوۀ لوی کاریزه ترلاسه کیدای سی.

شاه جوی ته نیږدې کلي: «سی گی» [30] د کمپ د سویل په تقریباً ۲/۱ ۱ مایلی کې، د موسی زیو درې کلي د ترنک د سیند په کینې غاړې کې له شاه جوی څخه تقریباً ۳ مایله لیرې، قلعـۀ دینک د شاه جوی ختیځ کې ۲ مایله لیرې؛ دوه نور کلي سنگر او کلا خیل لویدیځ لور ته له کمپ څخه ۳ مایله لیرې. د اولان رباط کلي: د کلیو یوه لویه ډله ده چې ۲۰ کلي لرې چې شمال لور ته تقریباً ۷ مایله لیرې واقع دي. گرد چاپیره سیمه ډیره حاصلخیزه ده؛ استوگن وگړي ئـې توخي غلزي دي.

شاه جوی د هغې جگړې له کبله هم شهرت لري چې د ۱۸۷۹ز کال د اکتوبر د میاشتې په پینځه ویشتمې نیټې پیښ سوه، د دې جگړې شرحه « د افغان د دوهمې جگړې په رسمي تأریخ» [31] کې راغلې ده.

یادونه :دا ځای په ۱۸۸۰ز کال کې دقیقاً نـۀ وو پیژندل سوی؛ د کمپ معمول سیمه د شاه جوی په نوم یادیږی. په دې نوم نور کلی په ۱۹ – ۳۲، ۲۵ – ۶۶ «ن» او د ارغنداب د سیند په شمال کې په ۵۴ – ۳۱، ۵۳ – ۶۵ «ن» کې موقعیت لری.

دور بیا

شاه مقصود:

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[30] -Saigai

[31] - the "Official History of the second Afghan War."

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ